**د هیپیټایټس B پر وړاندې د مخنیوي واکسین په اړه**

هیپاټیټس B د ځیګر حساس التهاب دی چې د هیپاټیټس B ویروس (HBV) لرونکي سرایت له کبله رامنځته کیږي. دغه ویروس د ناروغ کس د وینې یا د وینې مایعاتو له لارې (د بیلګې په ډول، د جنسي اړیکې پر مهال) انتقالیږي. جنسي اړیکې ددغې ناروغۍ په انتقال کې رغنده رول لري. په صنعتي هیوادونو کې وینه او د وینې اماده کول په عمومي ډول د پیتوجینو لپاره معاینه کیږي او لدې کبله خوندي ګڼل کیږي. همدا لامل دی چې دغه خطر د بلوغت په پیل سره زیاتیږي. دغه پیتوجین د امیندوارۍ میرمنې لخوا که چیرې د هیپاټیټس مزمن ویروس ولري ماشوم ته هم لیږدیدلی شي. لدې کبله، باید ټولې امیندوارې میرمنې معاینه شي. که چیرې ټیسټ مثبت وي، نوي زیږیدلي ماشوم ته به له زیږون څخه سم دستي وروسته د پرې فیلیکس یا وقایي واکسین ورکول کیږي.
هیپاټیټس B د انفلونزا په څیر نښو یا د معدې ګازو شکایت، سټړتیا او تبې سره پیلیږي. وروسته، متیازې قهوه یي رنګ خپلوي، بولې خپل رنګ له لاسه ورکوي او د پوستکي زیړیدل او د سترګو زیړیدل (زیړی) راڅرګندیږي. له اغیزمنو خلکو څخه شاوخوا یو فیصد خلک ددغې ناروغۍ له کبله مري او تر لسو فیصدو ناروغو بالغانو (په شیرخورو ماشومانو کې تر 90% پورې) باندې دغه ناروغي سختیږي؛ او ویروس په بدن کې پاتې کیږي. د هیپاټیټس B ویروس د ناروغۍ د نښو پرته هم په مزمنې ناروغۍ بدلیدلی شي. سخت اغیزمن شوي خلک د خپل چاپیریال لپاره د سرایت سرچینه ګڼلی شو. په جرمني کې، شاوخوا 0.3 څخه تر 0.8 پورې خلک د HBV سخته ناروغي لري؛ په نورو هیوادونو لکه افریقایي او آسیایي هیوادونو کې د سختو ناروغو کسانو شمیره څو چنده لوړه ده. که چیرې دغه ناروغي په چا سخته شي، د ځیګر سیروز او د ځیګر حجرې کارسینوم اوږدمهاله ناروغي پکې رامنځته کیدلی شي.
هیپاټیټس B کومه ځانګړې درملنه نلري. له هیپاټیټس B څخه د ژغورنې یوازینې لار په خپل وخت د ژغورنې واکسین کول دي.

**واکسین**

د هیپاټیټس B پر وړاندې واکسین د هیپاټیټس B ویروس خلتې جزونه لري چې د خمیره حجرو څخه په ګټې اخیستنې سره د جین ټکنالوژۍ میتودونو په واسطه ترلاسه شوي او بیا په عصري میتودونو سره سوچا شوي دي. که چیرې په سمه توګه وکارول شي، تر اوږدې مودې پورې ناروغي له منځه وړي، د بیلګې په ډول، د هیپاټیټس B ناروغۍ پر وړاندې خوندیتوب.

د هیپاټیټس B یو واکسین درې ځله لګول کیږي. ستاسو ډاکټر تاسو ته د ژغورنې ددغه واکسین د وقفو، پیل او اوږدوالي او د هر ډول اړینو حامي واکسینونو په اړه معلومات درکولی شي. د هیپاټیټس B واکسین له نورو واکسینونو سره یو ځای هم ورکول کیدلی شي. دغه واکسین د عضلو په پیچکارۍ او که چیرې اړتیا وي د پوستکي لاندې پیچکارۍ سره ورکول کیږي. دغه پیچکاري یوازې په مټ یا کوناټې کې لګول کیږي. هغه خلک چې د ناروغۍ له لوړ خطر سره مخ وي، د بیلګې په ډول، روغتیایي کارکوونکي، د ابتدایي واکسین څخه وروسته د واکسین ګټه لیدل کیږي، که چیرې اړتیا وي، واکسین دوهم ځل ورکول کیږي. د واکسین ګټې لیدلو سپارښتنه د مکروب ضد موادو نه درلودونکو ناروغانو (د بیلګې په ډول، د سرطان درملنې له کبله) ته هم کیږي. د یوه واکسین سربیره چې دلته یې یادونه وشوه، چې یوازې له هیپاټیټس B څخه ژغورنه کوي، شیرخورو او کوچنیو ماشومانو ته د واکسین کولو لپاره په یوه وخت د واکسین ترکیب (شپږ برابره واکسین) چې د نورو ناروغیو څخه هم خوندي وي، شته دی. د ترکیبي واکسینونو په اړه د معلوماتو بیلې پاڼې ترلاسه کولای شی.

**څوک باید واکسین شي؟**

1. د واکسین له جنترۍ سره سم د هیپاټیټس B پر وړاندې ددغه واکسین ټولو هلکانو او انجونو ته چې عمرونه یې له اته اونیو څخه پیلیږي سپارښتنه کوي. په همدې توګه، ترکیبي واکسینونه چې وړاندې یې نوم واخیستل شو هم همدغه ډول کسانو ته مناسب دي. که چیرې دغه واکسین د شیرخورۍ په دوره کې نه وي ورکول شوی وروسته یې هم هر وخت ورکولی شی او سپارښتنه یې کیږي.
2. هغه نوي زیږیدلي ماشومان چې مور یې د هیپاټیټس B ویروس ولري له زیږون څخه سم دستي وروسته واکسین کیږي او ایمونوګلوبین ترلاسه کوي (مهم: د ابتدایي واکسین بشپړول په یاد ولرئ).
3. په هغو کسانو کې چې د کمزوري ایمني سیستم یا د شته ناروغۍ له امله د هیپاټیټس B ناروغي شدیده وي، د بیلګې په ډول، د HIV او/یا هیپاټیټس C درلودونکي ناروغان، د ځیګر ناروغۍ درلودونکي ناروغان، د ډیالیز ناروغان او همداسې نور.

4. هغه کسان چې له غیرمسلکي پلوه له زیات خطر سره مخ وي لکه په کورنۍ یا اوسیدو ځای کې د هیپاټیټس B درلودونکو کسانو سره د اړیکي له لارې، د سرایت لوړ خطر درلودونکي سره د جنسي اړیکي له لارې او د پیچکارۍ له لارې د نشه يي توکو کاروونکي، د بنديخاني ملګري، په رواني مرکزونو کې بالقوه ناروغان.
5. هغه کسان چې د مسلک له پلوه له لوړ خطر سره مخ وي، لکه، روغتیايي او یا د غاښونو کلنیک کارکوونکي (د لابراتوار، د پاک کارۍ کارکوونکو او زده کوونکو په شمول)، لومړۍ ځواب ویوونکي، پولیس، او د لوړ خطر درلودونکو مرکزونو کارکوونکي لکه بنديخانه، د پناه غوښتونکو مرکز، د معیوبو کسانو مرکزونه.
6. ګرمسیرو یا نیمه ګرمسیرو سیمو ته تلونکي مسافرين چې د هیپاټیټس B ناروغي پکې په لوړه کچه رامنځته کیږي؛ د انفرادي خطر ارزوني ته اړتیا ده.

**څوک باید واکسین نه شي؟**

هر هغه څوک چې سخته ناروغي او ورسره تبه (له 38.5°C څخه پورته) ولري او درملنې ته اړتیا لري باید واکسین نه شي. واکسین وروسته له هغې کله چې د ناروغۍ نښې له منځه لاړې شي ورکول کیدلی شي. د امیندوارۍ پر مهال، واکسین یوازې هغه وخت ورکولای شي کله چې د سرایت سخت او څرګند خطر موجود وي. که چیرې تاسو د واکسین له کوم عناصر سره سخت حساسیت ولرئ یا که چیرې تاسو د هیپاټیټس B تیر واکسین څخه وروسته د ناروغۍ کومې نښې لیدلي وي واکسین ورکوونکی به تاسو ته د واکسین د اړتیا او د دوام د انتخابونو په اړه مشوره درکړي.

**له واکسین څخه وروسته کړني**

واکسین شوی کس ځانګړي آرام ته اړتیا نه لري خو له واکسین څخه تر دریو ورځو پورې باید له غیرمعمول فزیکي عمل څخه ډډه وکړي. هغه کسان چې د وینې ګردش عکس العمل ته تمایل او فوري حساسیت ولري، باید له واکسین کولو وړاندې ډاکټر ته پدې اړه ووایي.

**د واکسین څخه وروسته ممکن ځايي او عمومي عکس العملونه**

له واکسین څخه وروسته، له ناروغۍ څخه د پام وړ مصونیت او ژغورني تر څنګ، له واکسین شوو کسانو څخه شاوخوا 10% ښایي د واکسین په ځای کې له سوروالي یا درد لرونکي پړسوب سره مخ شي. دا له واکسین سره د بدن نورمال تعامل دی او معمولاً له 1 څخه تر 3 ورځو موده کې رامنځته کیږي او ډیر کم تر اوږدې مودې پورې دوام کوي. په ډیرو کمو مواردو کې شاوخوا د پړسوب غوټي راپورته کیږي. عمومي نښې يې لکه له نرمې څخه تر منځنۍ تبې پورې، سرې تودې تبې، سردردي او د بدن په غړو کې درد (د عضلو او بندونو درد)، یا ډیر کم د ستړتیا احساس ګټل کیږي. ددې سربیره، ښایي د خیټې درد او د معدې ګاز (زړه بدیدل، قی او اسهال) بې نظمي رامنځته شي. له واکسین څخه وروسته د ځیګر د انزایم ارزښت لوړیدل ډیر کم لیدل کیږي. په عمومي ډول، پورته یاد شوي عکس العملونه موقتي وي او د نورو پایلو پرته ډیر زر له منځه ځي.

**آیا له واکسین څخه وروسته مونږ ته د ستونزو رامنځته کیدو امکان شته؟**

واکسین ډیر کم داسې عواقب لري چې د واکسین عکس العمل له نورمالې درجې څخه پورته لاړ شي. دوی د واکسین شوي کس په روغتیا باندې بیلابیلې ځانګړې اغیزې لري. په انفرادي مواردو کې، د عصبي سیستم عواقب (د بیلګې په ډول، عصبي التهاب، موقتي فلج) او د پلاکټ په شمیر کې کموالی بیان شوي دي؛ له واکسین سره نسبي اړیکه د بحث او شک وړ ده.

**د ممکنه جانبي اغیزو په اړه د واکسین ورکوونکي مشوره**

ددغي معلوماتي ليکني سربیره، ستاسو ډاکټر به تاسو ته مشوره درکړي. څرګنده ده چې که چیرې له واکسین وروسته علایم له پورته یاد زر له منځه تلونکو، موقتي ځايي او عمومي عکس العملونه څخه ډیر وخت نیسي. واکسین ورکوونکی به هم تاسو ته د مشورې ورکولو پر مهال موجود وي.

تاسو کولی شی چې ډاکټر ته لاس رسی پیدا کړی:

**بې واکي**

ددغې معلوماتي ليکنې اصلي پاڼه (نسخه 10/2014) د Deutsches Grünes Kreuz e.V په اجازه د رابرټ کوچ انسټيټوټ لپاره ژباړل شوې وه. جرمني ژبه د ليکنې اصلي نسخه ده؛ په ژباړې کې د تيروتنې لپاره، او هم د جرمني ژبې په اصلي نسخه کې د هر ډول وروسته بدلون په صورت کې د اوسنۍ ژباړې په اصلاح شوې نسخې کې هيڅ ډول مسؤليت په غاړه نه اخيستل کيږي.

نوم ________________________________________
*Name*

**له هیپاتیتس B پر وړاندې د خوندیتوب واکسین**
*Schutzimpfung gegen Hepatitis B*

مهرباني وکړئ دلته له هیپاتیتس B څخه د ژغورنې واکسین په اړه د معلوماتو پاڼه ترلاسه کړئ. په دغه پاڼه کې د واکسین په واسطه د مخنیوي وړ ناروغی ، واکسین، واکسین کولو، د واکسین عکس العملونو او د واکسین ممکنه عواقبو اړوند معلومات ورکړل شوي دي.
*Anliegend erhalten Sie ein Merkblatt über die Durchführung der Schutzimpfung gegen Hepatitis B. Darin sind die wesentlichen Angaben über die durch die Impfung vermeidbare Krankheit, den Impfstoff, die Impfung sowie über Impfreaktionen und mögliche Impfkomplikationen enthalten.*

له واکسین کولو څخه وړاندې د لاندې معلوماتو غوښتنه کیږي:
*Vor der Durchführung der Impfung wird zusätzlich um folgende Angaben gebeten:*

1. آیا دغه کس چې واکسین کیږي صحت مند دی؟
*Ist der Impfling gegenwärtig gesund?*

□ هو *(ja)* □ نه *(nein)*

2. آیا دغه کس چې واکسین کیږي کومه څرګنده الرجي یا حساسیت لري؟
*Ist bei dem Impfling eine Allergie bekannt?*

□ هو *(ja)* □ نه *(nein)*

که چیرې هو، کومه ________________________________________
*wenn ja, welche*

3. آیا دغه کس چې واکسین کیږي له تیر واکسین څخه وروسته د الرجي علایمو، سختې تبې، نورو غیرمعمول عکس العملونو سره مخ شوی دی؟
*Traten bei dem Impfling nach einer früheren Impfung allergische Erscheinungen, hohes Fieber oder andere ungewöhnliche Reaktionen auf?*

□ هو *(ja)* □ نه *(nein)*

که چیرې له هیپاتیتس B څخه د ژغورنې واکسین په اړه نور معلومات غواړی د واکسین له ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ!
*Falls Sie noch mehr über die Schutzimpfung gegen Hepatitis B wissen wollen, fragen Sie den Impfarzt!*

کله چې د واکسین بلې لیدنې لپاره راځی مهرباني وکړئ خپل د واکسین کتابچه درسره راوړئ!
*Zum Impftermin bringen Sie bitte das Impfbuch mit!*

**د رضایت اعلامیه**

*Einverständniserklärung*

**د هیپاتیتس B پر وړاندې د مخنیوي واکسین ترسره کولو لپاره**

*zur Durchführung der Schutzimpfung gegen Hepatitis B*

د هغه کس نوم چې واکسین ورکول کیږي ______________________________

*Name des Impflings*

د پیدایښت نیټه ______________________________

*geb. am*

ما د معلوماتو پاڼې ټول ټوکي لوستلي او پرې پوه شوی یم او زما ډاکټر د بحث پر مهال ماته واکسین په پوره جزییاتو تشریح کړ.

*Ich habe den Inhalt des Merkblatts zur Kenntnis genommen und bin von meinem Arzt/meiner Ärztin im Gespräch ausführlich über die Impfung aufgeklärt worden.*

☐ زه اضافي پوښتنې نه لرم

*Ich habe keine weiteren Fragen.*

☐ زه د هیپاتیتس B پر وړاندې وړاندیز شوي واکسین سره رضایت لرم.

*Ich willige in die vorgeschlagene Impfung gegen Hepatitis B ein.*

☐ زه له واکسین کولو څخه ډډه کوم. زه ددغه واکسین څخه د ډډې کولو په ممکنه زیانونو پوهیږم.

*Ich lehne die Impfung ab. Über mögliche Nachteile der Ablehnung dieser Impfung wurde ich informiert.*

نظر ______________________________

*Vermerke*

ځای، نیټه ______________________________

*Ort, Datum*

______________________________ ______________________________

د هغه کس چې واکسین ترلاسه کوي یا د سرپرست لاسلیک

*Unterschrift des Impflings bzw. des Sorgeberechtigten*

د ډاکټر لاسلیک

*Unterschrift des Arztes/der Ärztin*